له پیشرو خپروني

۲۱.۰۳.۰۹

## په طبقاتي ټولنه کې
## هنر د واکمنې طبقې په خدمت کې وي

د ۲۰۰۹ کال د اسکار جایزې ورکړل شوې. Slumdog Millionaire یا د بیوزلي سیمي میلیونر هغه فلم و چې تر ټولو زیات اته اسکاره یې وګټل. د بیوزلي سیمي میلیونر یو تفریحي فلم دی چې په ۲۰۰۸ کال کې جوړ شوی. فلم د یوه هندي ځوان پر ژوند څرخیږي چې په یوې تلویزیوني مسابقې کې میلیونر کیږي. دغه ځوان چې جمال نومیږي، له خپل ورور (سلیم) او ملګرې (لتیکا) سره د ممبی په یوې بیوزلي سیمي کې اوسیږي. د فلم په ځینو برخو کې د هغې بیوزلۍ انځور هم ښکاره شوی چې د هند زیاتره سیمې ورسره مخامخ دي، خو دا د فلم اصلي موضوع نه ده. د بیوزلي سیمي میلیونر د ډایرکټر لخوا هڅه شوې چې د فلم تفریحي بڼه برجسته شي او ننداره چیان پر هغې موضوع تمرکز وکړي چې جمال څرنګه له بیوزلي هلک څخه په یوه میلیونر بدلیږي.
په ۲۰۰۸ کال کې د Che Part One او Che Part Two (چې لومړنۍ برخه، چې دویمه برخه) په نوم دوه فلمونه هم جوړ شول. دغه دواړه فلمونه د کیوبا د انقلاب د ځلانده څیرې Che Guevara (چې ګوارا) پر ژوندانه جوړ شوي. د دغو دواړو فلمونو ډایرکټر د نړۍ مشهور ډایرکټر سټیوِن سوډربرګ دی. د چې ګوارا په رول کې مشهور لوبغاړي بِنیشیو ډِل ټورو کار کړی چې تر زیاته حده چې ګوارا ته ورته والی لري. د Che Part One فلم لومړنۍ برخه د کیوبا انقلاب ته ځانګړې شوې. په دغه فلم کې چې ګوارا د فیدل او راول کاسترو تر څنګ په سیرامائسترا کې د باتیستا حکومت پر ضد خپله جګړه پیل کوي او له درې خواو هاوانا محاصره کوي. فلم هاوانا ته د چې ګوارا تر مشرۍ لاندې ډلې پر حرکت پای ته رسیږي. د چې فلم دویمه برخه له کیوبا څخه بولیویا ته د چې ګوارا پر تګ او هلته د چریکانو د ډلې پر جوړولو او بیا د هغه پر قهرمانانه مړینې پای ته رسیږي. دغو دواړو فلمونو د چې ګوارا پر ژوند د جوړو شویو فلمونو تر ټولو واقعي انځور وړاندې کړی دی.
په طبقاتي ټولنو کې چې هر څه د واکمنو طبقاتو په لاس کې وي، هنر هم د هغوی په لاس کې وي. د دې لپاره چې واکمنې طبقې د ولسونو پام د هغوی له ستونزو او کړاونو څخه بلې خوا ته واړوي، له هر ډول وسیلې څخه کار اخلي. په اوسنۍ نړۍ کې د دې کار لپاره تر ټولو موثره وسیله د فلمونو جوړول دي، داسې فلمونه چې د ولسونو پر اصلي ستونزو تمرکز ونکړي او یوازې تفریحي بڼه ولري. د اسکار جایزې او د نړۍ نورې معتبرې فلمي جایزې هم معمولاً هغو فلمونو ته ورکول کیږي چې پانګه واله طبقه له کوم خطر سره مخامخ نکړي (که څه هم د چې ګوارا فلم په کن فیستیوال کې د تر ټولو ښه نارینه لوبغاړي جایزه لاس ته راوړه). د ۲۰۰۹ کال د اسکار جایزو

لپاره په لومړي ګام کې د چې ګوارا دواړه فلمونه له لست څخه حذف شول، خو د بیوزلې سیمې میلیونر په خیر فلمونه نه یوازې حذف نشول، بلکې تر ټولو زیاتې جایزې یې هم وګټلې.
د Slumdog Millionaire او Che Part One او Che Part Two په منځ کې توپیر دا دی چې لومړنی فلم یوازې تفریحي بڼه لري، خلکو ته کومه سیاسي پوهه نه ورکوي او هغوی د پانګه والو دولتونو پر ضد انقلاب یا پاڅون ته نه هڅوي، خو د چې ګوارا په هکله جوړ شوي دواړه فلمونه ولسونو ته د انقلاب او پاڅون لارې ښيي، ولسونو ته سیاسي پوهه ورکوي، پرګنې دې ته متوجه کوي چې ولې هغوی په بېوزلۍ کې لاس او پښې وهي، ډاکتر او درمل نه لري، ماشومان یې ښوونځي ته تللی نشي، د ژوند نورې آسانتیاوې ورته نه چمتو کېږي او تر څو چې ژوندي وي، باید د سپو په شان ژوند تېر کړي. د چې ګوارا په هکله جوړ شوي فلمونه په ډاګه د پانګه والۍ پر ضد د پرګنو او ولسونو احساسات راپاروي او خلک دې ته مجبوروي چې د خپل ژوندانه د وضعیت په هکله فکر وکړي، کوم چې د بیوزلې سیمې میلیونر په فلم کې یې نښه هم په سترګو نه لیدل کېږي.
د بیوزلې سیمې میلیونر فلم خلکو ته او په ځانګړي توګه بیوزلو ته هیڅ راز مثبت پیغام نه لري، خو د چې ګوارا په هکله د جوړو شویو فلمونو پیغام بیوزلو ته متوجه دی؛ دا چې بیوزلي په څه ډول کولای شي له بیوزلۍ او لوږې څخه ځان وژغوري. د دغو فلمونو تر ټولو اصلي پیغام دا دی چې انسانان کولای شي د نړۍ پر سر له استبداد، زورزیاتي، لوږې، بیوزلۍ او ظلم پرته نظام جوړ کړي او ټول انسانان ډاکتر، درمل، روغتیا، ښوونځي، تفریح او نورو آسانتیاو ته لاسرسی ولري.



